Social Science AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# عاجزي د قرآن او حديثو په رڼاکي

**پوهنمل احمدعارف شهير**

اسلامي تعليماتو څانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: a.arif5911@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۵/۰۲/۰۸ منل سوي: ۱۴۰۵/۰۳/۳۰ خپره سوي: ۱۴۰۵/۰٦/۳۱ د ثبت ګڼه: LSSAJ-3-1-01 مخونه: ۲۳۴-۲۴۹

**لنډيز**

الله تعالی جل جلاله ته د خپل بنده لخوا تواضع کول ډېر خوښ دي، په هر مؤمن باندي دا لازمه ده چي د الله سبحانه وتعالی دي حکم ته پاملرنه وکړي، خپل ځان او نورو مسلمانانو ته په دې هکله لارښوونه وکړي، تر څو د الله جل جلاله د رحمت او مهرباني سبب وګرځي او د الهي رضا د ترلاسه کولو وسيله وګرځي، لکه څنګه چي الله جل جلاله انسانانو ته د ژوند په ټولو چارو کي لارښووني کړي دي، همدارنګه ئې د عاجزي کولو او د تکبر څخه د ځان ساتلو په هکله هم ارشادات فرمايلي دي، د عاجزي کولو په سبب الله جل جلاله خپلو بندګانو ته په ټولنه کي عزت ور په برخه کوي او خپله رضا ور نصيب کوي، تکبر کول د الله جل جلاله خپله ځانګړنه ده او د بندګانو لپاره تکبر کول او عاجزي نه کول د هغه ستر ذات د ناخوښی سبب کيږي، د ټولني زيات وګړي د الله جل جلاله ددې امر څخه چي عاجزي ده سر غړونه کوي، چي دا کړنه د الله جل جلاله او د رسول صلی الله عليه وسلم د ناخوښي سبب ګرځي، په دې مقاله کي د عاجزي کولو أهميت د قرآن او احاديثو په رڼاکي څېړل سوی، د څېړني أهميت په دې کي دی چي د الله جل جلاله په امر په عاجزي کولو سره انسان د دنيا او آخرت نېکمرغي ترلاسه کوي.

**کليدي کلمي:** اخرت، تواضع، جنت، دنيا، کبر، دوزخ.

# التواضع في ضوء القرآن والحديث

**الاستاذ المساعد احمد عارف شهير**

قسم التعليمات الاسلامية، كلية الشريعة، جامعة هلمند

Email: a.arif5911@gmail.com

**المخلص**

يحب الله تعالى التواضع من عباده، ويجب على كل مؤمن أن يلتزم بأوامر الله تعالى، وأن يهدي نفسه واخوانه المسلمين في هذا الشأن حتى يكون سببا لرحمة الله تعالى ولطفه وينال رضاه يصبح الأمر وسيلة للتحصيل فكما هدى الله تعالى البشر في جميع شؤون الحياة فقد أرشدهم أيضا الى التواضع وتجنب الكبر وبفضل التواضع يمنح الله تعالى عباده الكرامة في المجتمع ويرضيهم، والكبر صفة من صفات الله تعالى والكبر وعدم التواضع عند عباده هما من مكروه الله تعالى، وذلك لأن كثيرين في المجتمع يخالفون أمر الله تعالى وهو التواضع وهذا الفعل يغضب الله تعالى ورسوله صلى الله عليه وسلم في هذه المقالة نتناول أهمية التواضع في ضوء القرآن الكريم والسنة النبوية وتمكن أهمية هذه الدراسة في أن التواضع امتثالا لأمر الله تعالى يحقق السعادة في الدنيا والآخرة.

**الكلمات المفتاحية:** الآخرة، التواضع، الجنة، الدنيا، الكبرياء، الجحيم.

## سریزه

ان الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا من یهده الله فلامضل له ومن یضلل فلا هادي له ونشهد أن لا اله الا الله ونشهد أن محمدا عبده ورسوله وبعد:

د مؤمنانو د غوره ځانګړتیاوو څخه یوه هم عاجزي او دالله سبحانه وتعالی په وړاندي خپل سر ټيټول دي او د کبر، غرور، ځان ښودني، هوا او هوس څخه ځان ساتل دي، که څوک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ژوند ته په ځیر سره کتنه وکړي دابه ورته جوته سي چي د هغه ژوند د اسلام د مبارك دین په کومو حالاتو باندي ولاړ وو مګر زمونږ ژوند په کوم حالت کي قرار لري، زه د الله سبحانه وتعالی څخه داغوښتنه کوم چي مونږ د ایمان په ښکلا سره مزین کړي، د مسلمانانو په وړاندي مو عاجز او د کفارو په وړاندي مو ثابت قدمه کړي او مونږ د خپلو نفساني غوښتنو او بدو اعمالو د شر او بدو پایلو څخه لیري وساتي د الله سبحانه وتعالی ستر ستر رحمتونه دي زمونږ په ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دهغه په کورنی وي.

هغه ستر ذات الله سبحانه وتعالی لره دي حمد وي چي په ځمکه او اسمانونو کي عظمت او لوړ والی لري او په هر څه باندي حکمت لرونکی ذات دی، د مؤمنانو لپاره د تکبر څخه ځان ساتل یوه غوره وسیله ده چي باید په توبه ایستلو او عاجزي کولو سره ځانونه دالله سبحانه وتعالی د عذابونو څخه وساتي، یوازینی ذات الله سبحانه وتعالی دی چي د تکبر ځانګړنه ورسره ښایي که د مخکنیو پیغمبرانو او همدارنګه د مخکنیو غوره عالمانو ژوندد تر څیړني لاندي ونیسو دي پایلي ته رسیږو چي د خپل معبود په وړاندي باید سر ټيټي اوسو الله سبحانه وتعالی داسي فرمایلي دي: [تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ]. [سورة القصص : أية 83].

ژباړه: دغه کور د آخرت [چه جنت دی] ورکوو مونږ دا دپاره د هغو کسانو چي نه لري اراده دلویی[او تکبر] په ځمکه کي او نه فساد ظلم کوي (په خلقو) او عاقبت ښه خاتمه د پاره د پرهیزګارانو ده.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی بل ایت مبارك کي فرمایي: [وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ]. [سورة الشعراء : آية 215].

ژباړه: او ښکته کړه وزر خپل [یعني نرمي وکړه] هغه چاته چي متابعت یې کړی دی ستا له مؤمنانو نه.

بل آیت مبارك کي داسی فرمایي: [وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ]. [سورة لقمان : آية 18]

ژباړه: او مه ګرځوه مخ خپل خلقو ته (له ډېره کبره بلکه ګوره دوی ته په تواضع سره) او مه تګ په ځمکه کي په ناز او نخرو! بیشکه الله نه خوښوي هره کبر کوونکی فخر کوونکی په (خلقو).

همدارنګه الله سبحانه وتعالی د عاجزي کوونکي انسانان ستایلي دي او متکبرین یې غندلي دي او دهغوی لپاره ئې وعید ذکر کړی دی اوداسي ئې فرمایلي دي: [إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ]. [سورة الحجرات :آية 13].

ژباړه: بيشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسي څخه په نزد د الله ډېر متقی ادب لرونکی ستاسی دی.
ددې موضوع په هکله پيغمبر صلی الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: قال: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ ». قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً. قَالَ « إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ». (النيسابوري أ. ا., صحيح مسلم, ۱۴۲۲).
ژباړه: عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هر هغه څوك چې په زړه کي ئې د يوي ذري په اندازه کبر وی جنت ته به داخل نه سي، يو کس ورڅخه و پوښتل اې د الله جل جلاله رسوله! که يو کس نوي جامي او ښايسته څپلي خوښوي داهم کبر دی، هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله جل جلاله ښايسته دی او ښايست خوښوي، کبر د حق څخه انکار کول او خلکو ته په حقارت سره کتل دي.

### د څېړني ستونزه

د مسلمانانو يو ځانګړی مسئوليت د الله جل جلاله د آوامرو په ځان عملي کول دي چې د هغو د جملې څخه يو هم تواضع کول دي زمونږ د ننۍ اسلامي ټولني يوه نه جبرانېدونکي ستونزه هغه په ځان، علم، مال، منصب باندي غرور کول دي چې يوازينی سبب د دې څېړني همدا لامل دی.

### د څېړني ارزښت

دا څېړنه د أهميت له پلوه د زيات أهميت درلودونکي ده ځکه چې مونږ د خپلي افغاني ټولني زيات شمير انسانان وينو چې د اسلام د مبارك دين ددې امر څخه سرغړونه کوي او ددې څېړني په ترسره کولو سره به د دې الهې نعمت څخه برخمن سي.

### د څېړني موخي

د هري کړني لپاره ځانګړي موخي وي چې زما ددې ليکني موخي په لاندي ډول دي:
۱: په اسلامي شريعت کي د عاجزي أهميت ډېر زيات دی.
۲: د الله جل جلاله په وړاندي د عاجزي ګټي خورا زياتي دي.
۳: په اسلامي ټولنه باندي د عاجزي کولو تأثيرات مثبت دي.

### د څېړني پوښتني

۱: ايا په اسلامي شريعت کي عاجزي کول څه حکم لري؟
۲: په تولنه کي د عاجزي کولو ګټي څه دي؟
۳: په ټولنه باندي د عاجزي کولو تاثيرات څه دي؟

### د څېړني اړوند مخکنۍ څېړني

زما څېړني ته ورته نوري څېړنې هم په عربي ژبه کي ترسره سوي دي، چې د هغو د جملې څخه یوه هم د (التواضع) تر عنوان لاندي چي د فضيلة الشيخ مسعد حسين محمد الجعلي لیکنه ده ترسره سوي ده.

دوهمه څېړنه چي زما لاسته راغلي ده هغه د (التواضع في ضوء الكتاب والسنة) ده، چي د (سليم الهلالي) لخوا ترسره سوي ده.

دریمه څېړنه د الخشوع في الصلاة حقيقته و أسبابه تر عنوان لاندي ده چي د (أبو عبدالله الخطيب) لخوا ترسره سوي ده.

څلورمه څېړنه چي د التواضع والخمول ترعنوان لاندي د ابن أبي الدنيا لخوا ترسره سوي ده.

پورته څیړني که څه هم د عاجزي اړوند دي، ولي یوه برخه یې زما د څېړنې سره سمون لري، او زما د څېړني توپیر د هغو سره د پښتو ژبي او جزئیاتو اړوند دی.

## مواد او کړنلاره

یاده موضوع ( الله جل جلاله ته په عاجزي کولو سره انسان عزتمن کیږي) چي څیړنه ورباندي سوي ده هر حکمت او ښیګڼه ئي د آسماني دين په رڼاکي څيړل سوي ده، په څیړنه کي د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل سوي ده ، چي توصيفي او تشريحي دی او معتبر مآخذونه کارول سوي دي.

## د څېړني موندني

## د تواضع پیژندنه

عاجزي نه یوازي د دنیوي ژوند لپاره د کامیابی او عزت وسیله ده بلکي د الله سبحانه وتعالی د رضا او اخروي ژوندد د سرلوړي سبب هم کیږي.

الف: د عاجزي لغوي پیژندنه: الخُضُوع التواضُع والتَّطامُن خَضَع يَخْضَع خَضْعاً وخُضُوعاً.

تواضع د عاجزي په معنی ده چي د (خَضَع يَخْضَع خَضْعاً وخُضُوعاً) څخه اخیستل سوي ده، معنا یې ځان تسليمول، غوږ نیول، سر ټیټول، امر منل او د حق په وړاندي چپ پاته کیدل. (الأفريقي).

ب: د عاجزي اصطلاحي پیژندنه: عاجزي په اصطلاح کي بي پرواکیدل، د فخر کول نه خوښيدل، د ځان په هکله د نورو خلکو څخه فضیلت نه خوښولو په معنا ده، او همدارنګه د تکبر او ځان ښودني څخه ځان ساتل دي. (الأفريقي).

## د عاجزي اړوند الفاظ

خضوع، ذلت، نرم خوی، ښه کردار.

## د عاجزي ډولونه

عاجزي په دوه ډولونو ویشل سوي ده:

الف: غوره او ستایل سوي عاجزي: دا ډول عاجزي هغه عاجزي ته ویل کیږی کوم چي د الله سبحانه وتعالی د بندګانو په وړاندي د بي احترامي او سپکاوي څخه ځان ساتل دي.

ب: ناوړه او ناخوښه عاجزي: دا هغه عاجزي ته ويل کيږي کوم چي د دنياوي اغراضو په سبب د دنيايي کس په وړاندي عاجز واوسي.

له همدې امله هوښيار سړی بايد په ټولو شرايطو کي د غندني وړ عاجزۍ څخه ډډه وکړي، او بايد په ټولو اړخونو کي د ستايني وړ عاجزي غوره کړي. (الفضلاء, 1397 - 1977).

**د عاجزي أهميت**

د اسلام په مبارك دين کي د عاجزي لپاره ډېر زيات أهميت موجود دی چي په انسانانو باندي ځان لوړ نه ګڼل، او عاجزي کول د بنده لپاره د دنيا او آخرت د لوړ والي او دخلکو سره د محبة وسيله ده، همدارنګه عاجزي کول د انسان د کمال ته رسيدو غوره او ستايل سوي لاره ده لکه څنګه چي عاجزي کوونکي انسانان الله سبحانه وتعالی لوړوي او متکبرين انسانان خوار او ذليل کوي چي د نبي عليه السلام د دي قول مصداق دي: من تواضع لله رفعه الله. (المسلسلة, 1985).

څوك چي عاجزي کوي الله جل جلاله به هغوی ته سرلوړي ور په برخه کړي. (البخاري, 1379).

**د عاجزي فضيلت**

الله سبحانه وتعالی داسي فرمايي: [فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ]. [سورة آل عمران :آية 159].

ژباړه: نو (يوازي) په سبب د رحمت د الله (چه پرتاسو شوی دی اې محمده ! تل) نرمی کوې ته دوی ته او که وای ته (اې محمده!) بدخوی سخت زړه نو هرومرو به تار په تار شوی وو (اصحاب) له چاپېره ستا څخه (اې محمده) نو عفوه وکړه له دوی نه ( د دوی له تجاوز نه پرتا) او مغفرت وغواړه (له الله) دوی ته (د تقصيراتو ددوی) او مشوره وکړه له دوی سره (اې محمده! په کار) امر کي نوکله دې چه ټينګه اراده وکړه (اې محمده! د يوه کار کولوته) نو توکل (اعتماد) وکړه پر الله باندې، بېشکه الله خوښوي توکل کوونکی (چه بريالی کوی يې او د رشد او صلاح لاره ورښيی).

دياد آيت په تفسير کي ابن کثير رحمه الله داسي فرمايلي دي: دا د الله جل جلاه د غوره بندګانو صفات دي چي په عاجزي سره پرځمکه باندي ګرځي. (الدمشقي ا. ا., ۱۹۱۹م)

**عاجزي د قرآن له نظره**

د الهي کلام په رڼاکي عاجزي کول د تکبر څخه ځان ساتل دي چي په دې هکله الله جل جلاله داسي فرمايلي دي: [وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا]. [سورة الفرقان :آية 63].

ژباړه: او بندګان د رحمن هغه کسان دي چي ګرځي دوی په ځمکه باندې په ورو [په تواضع] او کله چه خطاب کوي له دوی سره جاهلان ناپوهان نو وايي [ورته په ځواب کي سلام، خبره] سالمه (له ګناه او ضرر څخه).

د پورتني آیت مبارك څخه څرګندیږي چي د هغو کسانو لپاره کوم چي د الله رضا ئې هدف وي عاجزي کول بهتر او غوره دي.

همدارنګه بل آیت مبارك كي داسي فرمايي: [وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ]. [سورة لقمان : آية 18].

ژباړه: او مه ګرځوه مخ خپل خلقو ته (له ډېره کبره بلکه ګوره دوی ته په تواضع سره) او مه تګ په ځمکه کي په ناز او نخرو! بېشکه الله نه خوښوي هره کبر کوونکی فخر کوونکی په (خلقو).

دا پورتنی آیت مبارك ددې وضاحت کوي چي الله سبحانه وتعالی انسانان د تکبر څخه منع کړي دي او تواضع ته ئې هڅولي دي.

بل آیت مبارك كي الله سبحانه وتعالى فرمايي: [إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ]. [سورة الفاتحة :آية 5].

ژباړه: خاص تاته عبادت کوو او خاص له تاڅخه مرسته غواړو.

د پورتني ايت په مبارك څخه په واضح ډول د عاجزي غوره والی څرګندیږي یعني مونږ باید دیوه الله سبحانه وتعالی عبادت وکړو او هغه د ځان معبود وګرځو، مرسته او کومك ورڅخه وغواړو.

د عاجز انسان عاجزي دده سره د الله سبحانه وتعالی د محبت ښکاره ثبوت دی لکه څنګه چي الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ]. [سورة المائدة :آية 54].

ژباړه: اې هغو کسانو چه ایمان یې راوړی دی (یعنی اې مؤمنانو) هر څوك چه مرتد شو (وګرځېد) له تاسې نه له دین خپل څخه نو عنقریب به راولی الله داسې یو قوم چه محبت کوي (الله) له هغوی سره او محبت کوي دوی له الله سره متواضع او مهربان به وی پر مؤمنانو غالب زبردست به وی پر کافرانو باندې جهاد به کوی دوی په لاره د الله کي (له پاره د ترقی ددین) او نه به وېرېږی دوی له ملامتیا دهېڅ ملامت کوونکی، دا (مذکوره صفات) فضل د الله دی ورکوی یې هغه چاته چه اراده وکړی او الله فراخ دی (فضل، رحمت، احسان دده) ښه عالم (خبردار په ټولو احوالو).

ابن کثیر ددې آیت د تفسیر اړوند داسي فرمایلي دي: هذه صفات المؤمنين الكُمَّل أن يكون أحدهم متواضعًا لأخيه ووليه، متعززًا على خصمه وعدوه. (الدمشقي أ. ا.، 1420هـ - 1999 م).

ژباړه: دا دمؤمنانو د بشپړوونکو صفاتو د جملې څخه دي چي یو کس د خپل ورور، بادار په وړاندې عاجزه او سرټیټی وي، مګر په خپل دښمن او مخالف باندي به عزتمن وي.

## عاجزي د احادیثو په رڼاکي

د عاجزي کولو په هکله چي د الله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم انسانان ورته هڅولي دي زیات شمیر احادیث موجود دي چي په خپل وار سره به ئې رانقل کړو: قال: عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ أَخِى بَنِى مُجَاشِعٍ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ خَطِيبًا فَقَالَ « إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِى ». وَسَاقَ

الْحَدِيثَ بِمِثْلِ حَدِيثِ هِشَامٍ عَنْ قَتَادَةَ وَزَادَ فِيهِ « وَإِنَّ اللَّهَ أَوْحَى إِلَىَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لاَ يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلاَ يَبْغِى أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ ». (النيسابوري أ. ا., صحيح مسلم, ١٤٢٢).

ژباړه: عياض بن حمار چي د مجاشع ورور دی وويل: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته په يوه وينا کي وويل: الله سبحانه وتعالی زه امر کړی یم، چي دا حديث د قتادة د روايت په مثال دی: الله سبحانه وتعالی زه امر کړی یم چي عاجزي وکړم ترڅو يو پربل باندي هيڅ کس فخر ونکړي او نه هم يو پربل باندي ظلم وکړي. (الصغير, 1356).

کله به چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو سره کښيناست دهغوی سره به په عادي ځمکه کښينتی وروسته به چي کوم نا آشنا کس راغی هغه به وپوښتل چي په تاسي کي نبي عليه السلام کوم يو دی؟ هغوی به په اشاره سره ورته وويل چي دا ناست کس دی يعني د پيغمبر صلى الله عليه وسلم منزلت او مقام ته که وګورو د هغه ناسته پاسته وګورو بيا به د هغه صلى الله عليه وسلم عاجزي راته معلومه سي.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم به د صحابه کرامو رضي الله عنهم أجمعين سره دهغوی په کورونو کي ليده کاته کول، دهغوی سره به يوځای کښينستی، دهغوی د مريض پوښتني ته به ورتلی، دهغوی په جنازه کي به ئې شرکت کوی، دهغوی په خوشحاليو کي به ئې ورسره ګډون کوی، کله چي به په لارو کوڅو کي د ماشومانو سره مخامخ کيدی پرهغوی به ئې سلام اچوی او د هغوی مخ او سر به ئې مسح کول او هغوی به ئې د ځان طرف ته رابلل همدارنګه د هغوی سره به ئې خندا کول لکه څنګه چي ئې د انس بن مالك د ورور سره په خندا وويل: قال: «عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا وَكَانَ لِي أَخٌ يُقَالُ لَهُ أَبُو عُمَيْرٍ - قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ -كَانَ فَطِيمًا - قَالَ - فَكَانَ إِذَا جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَرَآهُ قَالَ « أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ ». قَالَ فَكَانَ يَلْعَبُ بِهِ». (النيسابوري أ. ا., صحيح مسلم, ١٤٢٢)

ژباړه: د أنس رضي الله عنه څخه روايت دی چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ټولو خلکو په نسبت د نيکو او غوره اخلاقو خاوند وو، أنس رضى الله عنه وايي زما ورور د ابو عمير په نوم وو کله چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ليدلی وو هغه وخت لا ماشوم وو او د مور د شيدو خوړلو څخه جدا سوی وو، أنس رضى الله عنه وايي: کله چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم راغی او ابو عمير يې وليدی، هغه ته ئې وفرمايل: اې دعمير پلاره د نغير چي کوچنی بلبل وو څه وکړه؟ هغه وخت ئې د هغه بلبل سره ساتيری کاوه، يعني دپيغمبر صلى الله عليه وسلم د عاجزي بيلګه دلته يادولای سو. (آبادي, 1415 هـ).

همدارنګه د نبي عليه السلام د کورني ژوند په هکله دا روايت رانقلوم: قال: «عَنْ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَيْفَ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتْ الصَّلَاةُ خَرَجَ فَصَلَّى». (حنبل, مسند الإمام أحمد بن حنبل, 1420هـ ، 1999م)

ژباړه: أسود رضی الله عنه فرمايي ما د مؤمنانو د مور عائشي رضی الله عنها څخه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د کورني ژوند په هکله وپوښتل چي هغه د کور په چارو کي د خپل أهل سره څنګه ژوند کاوه؟ هغې رضي الله عنها راته وفرمايل: پيغمبر صلی الله عليه وسلم د کورنۍ په ټولو چارو کي مصروف وو کله به چي د جماعت وخت سو هغه به د جماعت تللو ته د کور څخه ووت.

## په عاجزي سره شرف ترلاسه کول

انسان هغه وخت د زيات شرف او وقار درلودونکی ګڼل کيږي چي د نارينه توب ځانګړتياوي په ځان کي تثبيت کړي: ابوبکر الصديق رضي الله عنه هغه صحابي دی چي تر انبياء عليهم السلام وروسته د خلکو غوره شخص وو، کله چي به د خلکو په مخ کي هغه ستايل کيدی او دهغه صفت به کيدی هغه به فرمايل: اې الله جل جلاله ته زما په حال تر دوی ښه خبردار يي، او زه په خپل حال تر دوی بهترپوهيږم، يا الله ما د دوی تر ګمان چي پرماباندي يې لري خير او بهتره کړي، دهغه څه بخښنه راته وکړي چي هغوی زما په حال نه دي خبر او هغه څه چي دوی يې زما په هکله وايي او په ماکي نه وي موجود د هغو په هکله مي مه نيسه.

همدارنګه عمر رضي الله عنه چي د مؤمنانو أمير دی کله چي به منبر ته پورته سو داسي به يې وفرمايل: اې خلکو عاجزي کوئ ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي، هغه څوک چي تواضع کوي الله به ئې عزتمن کړي.

که لږ فکر وکړو دا هرڅه چي ځيني په ځينو باندی فخر کوی ياهم په حسب اونسب باندي ياهم په منصب باندي او ياهم علم باندي دا ټول هغه څه دي چي بايد مونږ د الله سبحانه وتعالی ته عاجزه واوسو، دا ټول هغه څه دي چي په دي کي د انسان هيڅ دخالت نسته بلکي دي انسان ته د ابتلا او امتحان لپاره ورکړل سوي دي لکه څنګه چي الله سبحانه وتعالی فرمايي: [لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً]. [سورة الملك :آية 2].

ژباړه: ترڅو چي تاسي وازمايي، وګوري چي ستاسي څخه کوم يو ډېر ښه عمل کوونکی دی.

## د دنيا او آخرت سرلوړي په تواضع سره

عاجزي په دنيا او آخرت کي سرلوړي او عزت دی د الله سبحانه وتعالی او د انسانانو په وړاندی لکه څنګه چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: من تواضع لله رفعه الله. (المسلسلة, 1985).

ژباړه: څوک چي د الله لپاره خپل سر ټيټوي (عاجزي) کوي هغه به الله سبحانه وتعالی عزتمن کوي.

همدارنګه بل روايت کي داسي فرمايي: قال: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلاَّ عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلاَّ رَفَعَهُ اللَّهُ ». (النيسابوري أ. ا., صحيح مسلم, ۱۴۲۲).

ژباړه: د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅکله به په صدقه ورکولو سره د انسان مال کم نه سي، نه به هم نورو انسانانو ته په عفوه کولو سره د هغه په

عزت کي کمی محسوس سي، همدارنگه نه به هم يو کس ته په عاجزي کولو سره سرټيټی رامنځته سي بلکي د عاجزي په سبب به الله سبحانه وتعالی عزت او وقار ورپه برخه کړي. (الحجاج, 1392).

همدارنگه کبر او عجب (ځان ښودنه) کول په دنيا او آخرت کي د الله جل جلاله او انسانانو په وړاندي د سرټيټي سبب کيږي.

په دي هکله پيغمبر صلی الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: قال: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِى قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ» . (النيسابوري أ. ا., صحيح مسلم, ۱۴۲۲).

ژباړه: د عبدالله ابن مسعود څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي فرمايلي دي: هيڅکله به هغه څوک جنت ته داخل نه سي چي په زړه کي يې ديوي ذري په اندازه کبر هم موجود وي. (ماجه م. ا., 1427 هـ - 2006 م).

همدارنگه بل حديث مبارک کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم قول دی: قال: عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : ( لو دعيت إلى كراع لأجبت ولو أهدي إلي كراع لقبلت ). (الجعفي, صحيح البخاري, 1407 - 1987)

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه وايي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که يو کس ماته د پسه د پښي هغه باريک هډوکي لپاره هم د ميلمستا دعوت او بلنه راکړي زه به ئې قبوله کړم همدارنگه که دهمدغه هډوکي تحفه راته راکړي هم ئې قبلوم، دلته د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عاجزي يوه ښکاره بيلگه ده.

بل روايت دی: قال: عن أنس قال :كانت ناقة لرسول الله صلى الله عليه و سلم تسمى العضباء وكانت لا تسبق فجاء أعرابي على قعود له فسبقها فاشتد ذلك على المسلمين وقالوا سبقت العضباء فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( إن حقا على الله أن لا يرفع شيئا من الدنيا إلا وضعه ). (الجعفي, صحيح البخاري, 1407 - 1987).

ژباړه: د أنس رضي الله عنه څخه روايت دی چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوه اوښه درلودل چي د هغې نوم (العضباء) وو ددې اوښې څخه هيڅ وخت بل څوک نه وو مخکي سوی يعني د تگ په حالت کي، بيا يو اعرابي راغی چي په خپل اوښ باندي ناست وو او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اوښې څخه مخکي سو، دا کړنه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په ملگرو باندي سخته تمامه سوه او په غوسه سوه چي څنگه د نبي عليه السلام څخه مخکي سوی دی، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: په دې دنيا کي هيڅ شی نه پورته کوي مگر داچي را غورځوي يې.

داهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث مبارک: قال: عن أبي هريرة رضي الله عنه : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال ( ما بعث الله نبيا إلا رعى الغنم ) . فقال أصحابه وأنت ؟ فقال ( نعم كنت أرعاها على قراريط لأهل مكة ). (الجعفي, صحيح البخاري, 1407 - 1987).

ژباړه: د ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅ داسي نبي نه دی رالیږل سوی چي هغه دی د پسونو شپني نه وي کړي، بیا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملګرو ورته وفرمایل: اوته ؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما د څو پیسو په عوض د مکي دخلکو پالنه کوله.

همدارنګه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عاجزي بل مثال: قال: «عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلاَثَ. قَالَ وَقَالَ « إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الأَذَى وَلْيَأْكُلْهَا وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ ». وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلُتَ الْقَصْعَةَ قَالَ « فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْرُونَ فِى أَىِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ ». (النیسابوري أ.ا.، صحیح مسلم، ۱۴۲۲).

ژباړه: د أنس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم چي به کله ډوډۍ خوړل خپلي ګوتي مبارکاني به ئې پاکولي (څټلي) بیاي وفرمایل چي مونږ ته فرمایل سوي دي: کله چي تاسي ډوډۍ خورئ او د ډوډۍ خوړلو په وخت کی ستاسو څخه یوه ګوله ولویږي نو تاسي د هغه څخه مضر شیان لري کړئ او شیطان ته ئې مه پریږدئ ځکه تاسو ته معلومات نسته چي د ډوډۍ په کومه برخه کي برکت دی یعني د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عاجزي یوه بله نمونه ده چي مونږ باید ورته پاملرنه وکړو. (البخاري ع.ا.).

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددې قدسي حدیث مبارک څخه یادونه کوم: قال: عن أبى هريرة - قال هناد - قال قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- « قال الله عز وجل الكبرياء ردائى والعظمة إزارى فمن نازعنى واحدا منهما قذفته فى النار ». (السجستاني)

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي هناد وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله سبحانه وتعالی فرمایي: لویي او عظمت زما لباس دی که ددې دواړو په هکله څوک زما سره ځان یو شان کړي زه به ئې په ورځ د محشر د اور سزا ورکړم.

په ورځ د محشر به متکبرین په ډېر بد، ذلیل او سپک حالت کي راحشر کړل سی لکه څنګه چي په دې هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:قال: «عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ ، يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ ، يُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ مِنْ جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ ، تَعْلُوهُمْ نَارُ الأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةِ الْخَبَالِ». (الترمذي، محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي السلمي)

ژباړه: عمرو ابن شعیب د خپل پلار څخه روایت کړي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د محشر په ورځ به متکبرین انسانان د لمر وړانګو ته ورته د انسانانو په شکل وي، د هر طرف څخه به په ذلت او سرخوړي کي وي، هغوی ته به د جهنم څخه ګرمي او سوځوونکي اوبه ورکول کیږي، د اور سزا به د هغوی تر سرونو لوړه وي، همدارنګه هغوی ته به د نورو دوږخیانو د بدنونو هغه چټلي ویني او ژړي اوبه ورکول کیږي.

هغه کسان چي په دنیا کی د الله سبحانه وتعالی بندګانو ته په حقارت سره ګوري او د دې متکبر انسان په سترګو کي کوچني معلومیږي هغوی به په ورځ د محشر د کوچني میږیانو په څیر راحشر کړل سي او شکلونه به ئې د ماشومانو وي دوی به د انسانانو ترپښو لاندي کیږي دوی ته به ددې ناوړه عمل سزاء ورکول کیږي.

که چیري انسان خپل حقیقت ته پاملرنه وکړی چي د څنګه څڅلو اوبو څخه چي مني دي پیداسوی دی کله چي د انسان څخه مني خارج سي هغه باندي غسل کول لازمیږی، په داسې حال کي د انسان لپاره کبر او غرور هیڅ ګټه نلري. (الترمذي ت.ا.ر 1383 هـ - 1963 م).

**د مؤمنانو لپاره د عاجزي غوره والی**

**الف:** عاجزي د الله سره د محبت سبب کیږي: په دې هکله الله سبحانه وتعالی داسي فرمایلي دي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ]. [سورة المائدة :آية 54]

ژباړه: اې هغو کسانو چه ایمان یې راوړی دی (یعنی اې مؤمنانو) هر څوك چه مرتد شو(وګرځېد) له تاسې نه له دین خپل څخه نو عنقریب به راولی الله داسي یو قوم چه محبت کوي (الله) له هغوی سره او محبت کوي دوی له الله سره متواضع او مهربان به وی پر مؤمنانو غالب زبردست به وی پر کافرانو باندې جهاد به کوی دوی په لاره د الله کي (له پاره د ترقی ددین) او نه به وېرېږی دوی له ملامتیا دهېڅ ملامت کوونکی، دا (مذکوره صفات) فضل د الله دی ورکوی یې هغه چاته چه اراده وکړی او الله فراخ دی (فضل، رحمت، احسان دده) ښه عالم (خبردار په ټولو احوالو).

**باء:** بل آیت مبارك کي فرمایي: [مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا]. [سورة الفتح :آية 29].

ژباړه: محمد رسول او رالیګل شوی د الله دی (په حق سره) . او هغه کسان چي له ده سره دي سخت دي از روی مقابله او مجاهده پر کافرانو باندي مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځو کي ویني به ته هغوی، رکوع کوونکی او سجده کوونکوی، غواړي دوی پدي عبادت سره، فضل له الله تعالی نه، او غواړي رضامندي دهغه. نښي د دین داري او دوی ثابتي دي په مخو نو ددوی کي له اثر د سجدو نه یعني هغه انوار چي په اوداسه، نمانځه او سجدي سره په وجود دبنده کي پیداکیږي هغه نورانیت د دوی په وجودونو کي له ورایه بریښي. دا اوصاف هغه اوصاف دي، چي مثالونه یي په توراة کي بیان شوی، او دا اوصاف دی په مثالونه یې په انجیل کي بیان شوی. لکه هغه کښت چي را وباسي څانګي خپلي بیایي ملاخپله ټینګه کړی، بیا کلکه او پرړه شي دغه څانګه بیا ودریږي دغه کښت له ضعیفی او نرمی

نه په پنډېيو او بيخونو خپلو باندي پداسي حال کي چي قوت د ددې کښت په تعجب کي اچوي بزګران، دا قوت ددې لپاره دی چي په قهر راولي کفار، وعده کړې ده الله تعالی له هغو کسانو سره چي ايمان يې راوړی او عملونه نيک يې کړي دي دوی لره د ښښني او داجر ډير لوی، چي (جنت، لقا او رضا د الله تعالی ده).

**جيم:** جنة د عاجزه انسانانو دی: الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي چي جنت د عاجزه انسانانو ځای دی:[ تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ]. [سورة القصص :آية 83].

ژباړه: دغه کور د آخرت [چه جنت دی] ورکوو مونږ دا دپاره د هغو کسانو چي نه لري اراده دلويې[او تکبر] په ځمکه کي او نه فساد ظلم کوي (په خلقو) او عاقبت ښه خاتمه د پاره د پرهيزګارانو ده.

**دال:** عاجزي د نرمۍ وسيله ده: حدثنا أنس بن مالك قال :كانت الأمة من إماء أهل المدينة لتأخذ بيد رسول الله صلى الله عليه و سلم فتنطلق به حيث شاءت [ ش ( الأمة ) المرأة المملوكة . ( لتأخذ بيده ) أي تطلب مساعدته فيلبي طلبها وينقاد لها وليس المراد مسك يده . ( فتنطلق به ) تذهب ويذهب معها إذا احتاجت مساعدتها للذهاب . ( حيث شاءت ) أي موضع من مواضع المدينة يكون قضاء حاجتها فيه ]. (الجعفي, صحيح البخاري, 1407 - 1987)

ژباړه: أنس بن مالك رضي الله عنه وايي: د مديني منوري په ښار کي يوه وينځه وه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د هغه لاس نيولی وو په دې معنی نه دی چي د هغه لاس يې په خپل لاس کي نيولی وو بلکي د هغه سره يې تړون کړی وو، هغه ورته وفرمايل ولاړه سه هر چيري چي دي ضرورت او حاجة وو هغه به درته پوره کړي.

په پورتني روايت کي د عاجزي په هکله ويلای سو چي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا نرمي ددې وضاحت کوي چي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مقام او منزلت د يوې ښځي په وړاندي څومره د نرمۍ سره مل وو، انسانانو ته په کار ده چي د خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم په څير د نرم خوی او عادت درلودونکي و اوسي، همدا د عاجزي يوه غوره بيلګه ده همدا د مسلمانانو هغه اصلي حقيقت دی.

**عاجزي د علماؤ له نظره**

الف: وقال عروة بن الزبير رضي الله عنهما: رأيت عمر بن الخطاب رضي الله عنه على عاتقه قربة ماء، فقلت: يا أمير المؤمنين: لا ينبغي لك هذا. فقال: لما أتاني الوفود سامعين مطيعين، دخلت نفسي نخوة، فأردت أن أكسرها. (نستعين, 1393 - 1973)

ژباړه: د عروة بن الزبير رضي الله عنهما څخه روايت دی چي کله مي عمر بن الخطاب رضي الله عنه يوه ورځ وليدی چي پر اوږو يې د اوبو انتقالولو لوښی (ژی) انتقالوی، ما ورته وويل اې امير المؤمنينه ستاسو سره دا کړنه نه ښايي، هغه راته وفرمايل کله چي وفد (پلاوی) راغلی وو د هغوی څخه مي

واوريدل چې د اطاعت خبره ئې کول، زما سره غرور پيداسو، د همدې غرور د له منځه وړلو په سبب دا کړنه ترسره کوم ترڅو دا غرور مي مات سي.

ب: د مطرف بن عبدالله په هکله ئې داسي فرمايلي دي: ( ما مدحني أحد قط الا تصاغرت الى نفسي). (الفرج, 1399 - 1979).

ژباړه: د مطرف بن عبدالله په هکله داسي راغلي دي چي( هرکله چي زما ستاينه بل کس کړي ده زه د ځان سره د ذلت احساس کوم).

ج: قال قتادة: من أعطي مالاً أو جمالاً أو ثيابًا أو علمًا؛ ثم لم يتواضع فيه كان عليه وبالاً يوم القيامة. (والخمول, 1409 - 1989)

ژباړه: د قتادة رضي الله عنه قول داسي دی چي كله يو انسان ته ښايست، جامي او علم ورکړل سوی وي او په هغه سره عاجزي ونكړي د قيامت په ورځ به دده پر او ږو باروي.

همدارنگه د نبي كريم صلی الله عليه وسلم څخه بل حديث مبارك رانقل سوی دی، قال: عن عبد الله بن أبي أمامة الحارثي عن أبيه قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : ( البذاذة من الأيمان ). (ماجه)

ژباړه: عبدالله بن أبي أمامة الحارثي د خپل پلار څخه رايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (عاجزي ايمان دی) يعني بذاذة عاجزي ته ويل کيږی.

د: قال أبو حاتم رضي الله عنه: التواضع يرفع المرء قدراً، ويعظم له خطراً، ويزيده نبلاً. (الفضلاء, 1397 - 1977).

ژباړه: أبو حاتم رضي الله عنه فرمايلي دي: عاجزي د انسان مقام، أهميت او شرافت لوړوي.

**بحث او مناقشه**

داچې زما د موضوع عنوان عاجزي د قرآن او حديثو په رڼاکي دی د قرآني آيتونو، نبوي أحاديثو او علماء کرامو اقوالو په رڼاکي ټوليزه څيړنه ده، که څه هم په نورو ژبو او کتابونو کي په انفرادي توگه بحث ورباندي سوی دی، همدارنگه ددې زماني علماء کرامو ورباندي په عربي ژبه بحث کړی دی چي يوازينی توپير ئې په پښتو ژبه باندي څيړنه کول دي.

عاجزي نه يوازي داچي د الله سبحانه وتعالی د خوښی سبب کيږي بلکه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ارشاداتو پرځای کول هم پکښي راځي، همدارنگه نه يوازي داچي د آخرت ښيگڼه پکښی نغښتي ده بلکه د دنيا او آخرت د کاميابی وسيله ده او هم په دنيا کي د لوړوالي او عزت نښه ده، په عاجزي کولو سره د انسان د عزت زياتوالی رامنځته کيږي الهي آوامرو ته غاړه ايښودل دي او هم په دنيا او آخرت کي اجرونه او مکافات ترلاسه کول دی، په ټولنه کي په زيات درنښت او وقار سره ژوند کول دي چي د انساني ټولني لپاره د همدې عاجزي کول د ټولني د جوړوالي سبب دی، د اسلامي ټولني اصول هم دادي چي په کومه ټولنه کي غواړو عزت ترلاسه کړو بايد د الله په وړاندي خپل سر ټيټ وساتو، د ديني لارښوونو کړني ترسره کول د هر مؤمن بنده مسئوليت دی ترڅو له يوې خوا د الله جل جلاله رضا ترلاسه

کړي له بلي خوا د اجر او ثواب مستحق سي، د نورو هغو ښځو سره ددې ښځې توپير دادی چي دا ښځه په خورا ساده او آسانه لهجه باندي ترسره سوي ده، همدارنګه ددې ښځې نوښت په دې کي دی چي داسي روانه پښتو لیکنه نه تر سترګو کیږي.

**پایله**

د ښځې په پای کي زه د بحث هغه لنډي پايلي ذکر کوم، چي د لیکني په جريان کي ورته رسيدلی يم، يوازي د الله سبحانه وتعالی لور ته متوجه کيدل او د هغه رضايت ترلاسه کول د عاجزي په سبب ممکنه ده، په اسلامي شريعت کي د عاجزي لپاره ځانګړې او د قدر وړ مقام دی چي بايد انسانان ورته متوجه سي، همدارنګه د عاجزي په سبب د انسانانو ترمنځ د ورور ولي او باور رامنځته کيدو لار هواريږي چي دا هم د أخروي او دنيوي خوشحالی سبب کيږي، د عاجزي د مهمو ګټو څخه يو شمير ئې په دنيا او آخرت کي د کاميابي ترلاسه کيدلو سبب کيږي چي په روزمره ژوند کي ئې مونږ ليدلای سو، په عاجزي کولو سره ټولنه مثبت لور ته ځي، د ټولني ناخوالو ته په کتلو سره ويلای سو چي يوازينی حل لاره ئې په عاجزي کولو سره تر لاسه کيدلای سي زمونږ د ټولنو د ستونزو حل د همدې لاري ممکن دی تر څو د الله جل جلاله طرفته متوجه سو او د هغه ستر ذات رضا ترلاسه کړو.

**وړانديزونه**

هره ښځه ځانګړي وړانديزونه لري، زمونږ د ښځې وړانديزونه په لاندي ډول سره دي:

۱ــ ښځونکي او علماء کرام بايد د تواضع په هکله زياته پاملرنه وکړي، ځکه چي د همدې لاري د دنيا او آخرت ستونزي حل کيږي.

۲ــ عاجزي د قرآن او حديثو په رڼاکي، ښځونکي بايد زياتي ليکني وکړي ترڅو د ټولني شته ستونزو ته حل لاره موندل سوي وي.

۳ــ هيڅ مسلمان ته نه ښايي د الله جل جلاله په وړاندي کبر وکړي.

۴ــ که څوک غواړي چي د عاجزي په هکله معلومات ترلاسه کړي بايد قرآن کريم او نبوي أحاديثو ته مراجعه وکړي.

۵ــ د هر انسان لپاره ضروري ده چي د عاجزي په جامه باندي ځان ملبس کړي.

**اخځليکونه**

القرآن الكريم
۱: آبادي, م. أ. (1415 هـ). *عون المعبود شرح سنن أبي داود* (۱۴ ټوک). بيروت: دار الكتب العلمية.
۲: الأفريقي, ا. م. (نيټه نشته). *لسان العرب* (۱۵ ټوک). بيروت، دار صادر.
۳: البخاري, ع. ا. (نيټه نشته). *أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى* (۲۵ ټوک). بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۴: البخاري, ف. ا. (1379). أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي (۱۳ ټوک). بیروت: دار المعرفة.

۵: الترمذي, ا. ا. (نی ټ نشت). محمد بن عیسی أبو عیسی الترمذي السلمي (۵ ټوک). بیروت: دار احیاء التراث العربي.

۶: الترمذي, ت. ا. (1383 هـ - 1963 م). أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحیم المبارکفوری (۱۰ ټوک). المدینة المنورة: المکتبة السلفیة.

۷: البخاري, م. ب. (1407 - 1987). صحیح البخاري (۶ ټوک). بیروت: دار ابن الکثیر الیمامة.

۸: النووي, ا. ش. (1392). أبو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف النووي (۱۸ ټوک). بیروت: دار إحیاء التراث العربي.

۹: الدمشقي, أ. ا. (1420هـ - 1999 م). تفسیر القرآن العظیم (۸ ټوک). موقع مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشریف.

۱۰: الدمشقي, ا. ا. (۱۹۱۹م). تفسیر القران العظیم (۸ ټوک). دار الطیبه للنشر والتوزیع.

۱۱: السجستاني, أ. د. (نیټ نشته). سنن أبي داود (۴ ټوک). بیروت: دار الکتاب العربي.

۱۲: الصغیر, ف. ا. (1356). زین الدین محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفین بن علي بن زین العابدین (۶ ټوک). مصر: المکتبة التجاریة الکبری.

۱۳: الفرج, ع. ا. (1399 - 1979). صفة الصفوة (۴ ټوک). بیروت: دار المعرفة.

۱۴: الفضلاء, ر. ا. (1397 - 1977). محمد بن حبان البستي أبو حاتم (۱ ټوک). بیروت: دارالکتب العلمیة.

۱۵: المسلسلة, ا. ف. (1985). أبي الفیض محمد یاسین بن محمد عیسی الفاداني المکي (۱ ټوک). د مشق: دار البصائر.

۱۶: النیسابوري, أ. ا. (۱۴۲۲). صحیح مسلم (8 ټوک). بیروت: دار الجیل بیروت + دار الأفاق الجدیدة.

۱۷: حاتم, م. ب. (1397 - 1977). روضة العقلاء ونزهة الفضلاء (۱ ټوک). بیروت: دارالکتب العلمیة.

۱۸: حنبل, أ. ب. ( 1420هـ ، 1999م). مسند الإمام أحمد بن حنبل. موقع الإسلام: مؤسسة الرسالة.

۱۹: ماجه, س. ا. (نیټ نشته). محمد بن یزید أبو عبدالله القزویني (۲ ټوک). بیروت: دار الفکر.

۲۰: ماجه, م. ا. (1427 هـ - 2006 م). محمد بن علي بن آدم بن موسی (۴ ټوک). المملکة العربیة السعودیة: دار المغني، الریاض.

۲۱: ابن ماجه، مغلطاي بن قلیج بن عبد الله البکجري المصري الحکري الحنفي، أبو عبد الله، علاء الدین، (1419 هـ - 1999 م)، شرح سنن ابن ماجه، مکتبة نزار مصطفی الباز.

۲۲: السیوطي، عبدالرحمن ابن أبي بکر أبو الفضل السیوطي، (1406 - 1986). شرح السیوطي لسنن النسائي، مکتب المطبوعات الإسلامیة.

۲۳: *القرطبي، أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك بن بطال البكري القرطبي، (1423هـ - 2003م). شرح صحيح البخارى ـ لابن بطال، مكتبة الرشد - السعودية.*

۲۴: *الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي، (1408هـ - 1987م). شرح مشكل الآثار، مكان النشر لبنان.*

۲۵: *ابن الجوزي، أبو الفرج عبد الرحمن ابن الجوزي، (1418هـ - 1997م). كشف المشكل من حديث الصحيحين، دار الوطن - الرياض.*

۲٦: *المباركفوري، أبو الحسن عبيد الله بن محمد عبد السلام بن خان محمد بن أمان الله بن حسام الدين الرحماني، (1404 هـ ، 1984 م). مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء.*

۲۷: *البغوي، الحسين بن مسعود البغوي، (1403هـ - 1983م). شرح السنة ـ للإمام البغوى، المكتب الإسلامي - دمشق.*

۲۸: نستعين, م. ا. (1393 - 1973). *مدارج السالكين* (۳ ټوک). بيروت: دارالكتاب العربي.

۲۹: والخمول, ا. (1409 - 1989). *التواضع والخمول - ابن أبي الدنيا* (۱ ټوک). بيروت: دار الكتب العلمية.

۳۰: السندي، نور الدين بن عبدالهادي أبو الحسن السندي، (1406 - 1986). *حاشية السندي على النسائي*، مكتب المطبوعات الإسلامية.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:3 Issue: 1 Year:1405